آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۸/۱۸

# زه او زما زړه

ستا مينه کې خوځو

زما زړه

او زه

ژواک او ژوند مو بس د همدې مينې له غمو او خوشاليو دی

خورو به يي

گالو او تيروو به يي

ټول زهير ژوندون کې خپل

يو خوا

د دې لوړې

نا پوهی

او بربنډتوب وير دی،

بل خوا ستا د مينې

د هجران

او د وخت د ناکردو اور دی

زه او زما زړه

ورته ولاړ يو

تيروو يي او زغمو يي

په ميراني او ټينگار سره

خو ويره مې ده دی نه چې:

پاتې به شم زه له دغه يون څخه

و به لويږي زړه مې له خوځون څخه

ته به لا پرې پوه نه يې!

۱۳۶۳/۰۵/۲۰


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ